# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| Literary - Cultural | ادبی ـ فرهنگی |
|---|---|



محمد هارون خپل شعشعی


۲۴ می ۲۰۱۲

# په ویلو او لیکلو کې همرنګي یا نیژدې والی

## څلرمه برخه

### د ګردی هي ( ه) او همزې (ء) مسأله

زمونږ پخوانو شاعرانو، لیکوالو او پوهانو په خپلو ارزښتناکو اثارو کې د پښتو زورکي(ə) د ټرانسکریپشن دپاره کله کله د عربي ژبې د فتحې ( ـَ ) له نخښې څخه کار اخیستۍ دئ؛ او کله کله یې بیا د پارسي لیکدود په پیروۍ له غیرملفوظي یا ګیرډۍ/ ګردۍ هي ( ه) څخه استفاده کړې ده؛ مثلاً ځینو ونه او درخته د « ونَ » او « درختَ » په بڼه لیکلي ده؛ او ځینو نورو بیا زمونږ له اوسني لیکدود سره سم د « ونه » او « درخته » په ډول . د برو پښتنو معاصرو ژبپوهانو، لیکوالو او څېړونکو هم د دې مقصد دپاره ګیرډۍ « ه » کار کړې ده . په افغاني ژبپوهانو، څېړونکو او لیکوالو کې، ځینې د دې ږغ د ټرانسکریپشن دپاره د ګیرډۍ هي ( ه ) پر ځای له همزې ( ء ) څخه کار اخلي . د کښته پښتنو لیکوال، شاعران او څېړونکي بیاپه ځینو ټکو لکه : که، له، مه، په، ته، زړه، ښه او داسې نورو کې د « ه » پر سر یوه همزه هم کاږي لکه : کۀ، لۀ، مۀ، پۀ، تۀ، زړۀ، ښۀ او داسې نور؛ حال دا چې د ځینو نورو ټکو دپاره بیا یوازې ګیرډۍ « ه » استعمالیي لکه : ننداره، نظاره، کناره، دوباره، نسته/ نشته، نغښته، محوه او داسې نور. نن سبا د برو پښتنو د ځینو لیکوالو په لیکدود کې هم د پېښوري لیکوالو دغه راز توري او نخښې لیدلی کېږي .

په دې اړه اساسي پوښتنه دا ده، چې د زورکي د املایي افادې دپاره ایا د ګیرډۍ هي ( ه )، همزې (ء) یا ګیرډۍ هي او همزې ګډ استعمال ( ۀ) د پښتو ټکو په وینګ او کښنګ کې د ښلوالي غوټه خلاصولای سي که څنګه؟ په دې خبره ټول پوهېږو، چې په پارسي کې هي ( ه) پر دوه ډوله ویله کېږي، چې یوې ته ملفوظه ( هغه « هـ » چې هم لیکل کېږي او هم ویل کېږي) او بلې ته غیرملفوظه ( هغه هي چې یوازې لیکل کېږي؛ خو په ویلو کې برخه نه لري) هي وایي . هوش/ هوښ، هواء، شهر/ ښهر او داسې نور ملفوظه «هـ » ده، چې د بېلابېلو ټکو په سر، منځ او پای کې راځي . په مرده، زنده، بنده او داسې نورو ټکو کې راغلي هي ګرده د غیرملفوظي هي مثالونه دي . په پښتو کې هم له هغو پخوانو شاعرانو، لیکوالو او پوهانوچېه، چې د غیرملفوظي هي دپاره یې له

عربي زْوَر یا فتحې ځخه کار اخیستئ دئ، په نورو ټولو حالاتو کې د همدې پاړسي قاعدې پیروي سوې ده . یاني موږ هم د پاړسي ژبې په شان په هوش، هوا، ښهر ( دا ټکی په سر کې له پاړسي « شهر » څخه مفغن سوئ دئ؛ خو تر څه زماني بدلونو وروسته دا دئ له ننني تلفظ سره سم، په « ښار» اوښتئ دئ) او داسي نورو ټکو کې د هې ( هـ ) ږغ هم په تلفظ کې شاملوو او هم یې په لیکنه کې کاږو. که څه هم په پښتو کې د ملفوظي هې ږغ زیاتره په الف اوړي لکه : « اګی »، « اوا»، « ښار »، « شازاده »، « شاکار » او داسي نور، چې موږ ټول یې د دودیز لیکدود له مخې د « هګی »، « هوا »، « شهزاده »، « شهکار/ شاهکار» په بڼه کاږو. په دې ډله کې یوازې « ښار » عموماً او« اګی » قسماً په اوسنی ږغیزه بڼه منل سوې ده . « ونه »، « ساده »،« ښه »، «کږه »، مږه ( مردګان) او داسي نور ټول هغه ټکي دي، چې د پاړسي په شان یې په لیکنه کې ګیردۍ هې کاږو؛ خوپه ویلو کې نه وایو.

لکه ځنګه چې مخکې یادونه وسوه، غیرملفوظه یا ګیردۍ هې په دغه راز ټکو کې فقط د زورکي د اواز د تمثیل دپاره کښل کیږي؛ او د زورکي اواز هم په واقعیت کې له هغه ږغیز توري څخه پورته کیږي، چې تر ګیردۍ یا غیرملفوظي هې مخکې راغلئ یي . له همدې کبله زموږ ځینو پخوانو شاعرانو او لیکوالو په خپلو اثارو کې د پاړسي دود او دستور پر خلاف د دغه راز ټکو د املا دپاره د عربي لیکدود پیروي کړې ده؛ او د هغه ږغ لرونکي توري پر سر یې فتحه یا زْوَر ایښئ دئ، چې تر هې مخکې راځي لکه : « ونَ »، « سادَ »، « ښَ »، « کږَ »، « مږَ » او داسي نور. په ډول ګورو، چې همزه هم د ګیردۍ هې په شان په یوازیتوب سره د زورکي د ږغ استازیتوب نسي کولای . لکه ځنګه چې وړاندې اشاره وسوه، په عربي کې هم ږغ په واقعیت کې په هغې فتحې، کسرې او ضمې پورې اړه لري، چې له همزې سره ملګریتا کیي،که نه نو همزه خو له ځانه هیڅ ږغ نه لري .

### د ځینو ټکو په ویلو کې د خج مسأله ځنګه حلېدای سي؟

ژبپوهانو او ادبپوهانو ته مالومه ده، چې د ځینو پښتو ټکو بعضې برخې په خج یا فشار(**accent/stress**) سره ویلې کیږي . د وینګ او کښنګ تر منځ د همرنګی یا نیژدې والي اصل غوښتنه کیي، چې د بېلابېلو ټکو په ویلو کې د خج مسأله باید د هغو په لیکلو کې هم له پامه و نه غورځول سي مثلاً: زړه ( سابقه، ګذشته، قدیمی)،کډه ( چُقری، جای ګود و ژرف در امتداد راه)، بېله ( ناوه برای انتقال آب)، شوله ( غذای نرم معمولاً تیار شده از برنج لُک) او داسي نور هغه ټکي دي، چې په ویلو کې زور او فشار پر دوهمه څپه دئ (**Oxytone**) . که په داسي ټکو کې د خج ښوولو دپاره بېلوونکي نخښه ونه لرو، هرومرو له هغو مشابه ټکو(**homographs**) سره د التباس او مغالطې په لوی سرخوږۍ اخته کیږو، چې په ویلو کې خج یا فشار پر لومړي سپوږ دئ (**paroxytone**) لکه : زړه ( دل، قلب)،کډه ( کوچ، زن، خانم)، بېله ( جدا، علیحده)، شوله ( شالی، بوټهٔ برنج) او داسي نور.

په داسي مواردو کې ګیردۍ هې یا همزه په یوازیتوب سره د خج مسأله نسي ښوولای . ګیردۍ هې خو له عمرو څخه د دود او دستور له مخې زموږ په لیکدود کې د زورکي د تمثیل په مقصد استعمالیږي . که دا دود او دستور تر دې وروسته هم پالو، بیا نو په ځینو ټکو کې د خج ښوولو دپاره هرومرو باید له یوې خاصې او جلا نخښې څخه هم کار واخلو. دا نخښه باید یوازې د هغو تورو پر سر، لاندې یا غبرګ کې وکښل سي، چې په ویلو کې خج یا فشار لیدل کیږي، نه د پېښوري لیکوالو غوندې، چې په ځینو بې خجه ټکو لکه : « ته »، « مه »، « ښه »، « له » او داسي نورو کې هم بېدریغه کاریي .

## د ممدوده او مقصوره الف مسأله

د پښتو د عنعنه يي يا دوديز ليکدود پلويان په ټولو عربي او پاړسي ټکو کي د هغو له اصلي املا سره سم د ممدوده يا اوږده الف ( آ) ليکل حتمي او ضروري ګڼي لکه : آثار، آسمان، آشنا او داسي نور. د پښتو ځيني نور ژبپوهان او ليکوال بيا ادعا کيي، چي په پښتو کي خو له لويه سره ممدوده يا اوږد الف نسته، ځکه يې نو بايد هيڅکله په پښتو ليکنو کي ونه کاږو. له همدې وجي دا ډله هره مد لرونکي کليمه، بې مده کاږي لکه : اثار، اشنا، اسان او داسي نور.

زما په قاصر نظر دا ادعا علمي اساس او بنسټ نه لري، چي وايي په پښتو کي اصلاً ممدوه يا اوږد الف نسته . زه نه پوهيږم دې ښاغلو کله پر ځينو ټکو لکه : آر ( ريښه، اصل، ذات، اساس، بيخ ، بنياد)، آس، آخوا، آپلو او داسي نورو غَوَر کړئ دئ که څنګه؟! د پښتو په ځينو دخيلو ټکو لکه : آب ( پت، عزت، احترام، وقار)، آر ( د عار مفغنه بڼه، چي د شرم او پيغور مانا لري)، آر ( په پښتو کي د خيال او نظر په مانا هم کاريږي لکه : پلانی مي په آر نه راځي)، آن ( وخت، زمان،ګړی، شيبه) او داسي نورو کي هم د ممدوده الف ږغ له ورايه څرګند دئ . که د ژبپوهانو او ليکوالو دا ډله د خپلي ناسمي انګيرني په وجه له « آر» څخه « ار» جوړ کي،بيا به نو خامخا د جنوب - لوېديځي لهجي ويوونکي په ځان پوري وخندېي؛ ځکه « ار» د ږغ نوم يا اسم صوت دئ، چي د اريانی، تعجب او ډرې وهولو په مانا استعماليږي .

په جنوب - لوېديځه لهجه کي اسان ( د آس جمع) تل د الف په اوږده او کشېده ږغ ويل کيږي، چي په حقيقت کي د ممدوده يا اوږده الف ښکارندوی دئ . که څوک په تېروتني سره دا کليمه په لنډ يا مقصوره الف و وايي، نو سمدستي له اسان ( ساده، بسيط، سليس، د ګران او پېچلي ضد) سره التباس پيدا کيي، چي د پښتو مروج ټکی دئ ( البته، په مرکزي او ختيځه لهجه کي د آس د جمعي دپاره اسونه کاريږي) . هيڅ پښتون آخوا، آپلو او داسي نور عبارتونه په لنډ يا مقصوره الف نه وايي . نتيجه دا ده، چي په پښتو کي د ممدوه يا اوږده الف ږغ په ډېر ټکو کي ژوندی دئ . البته، دا د تعجب او اريانی وړ خبره نه ده، چي د شرقي لهجي ليکوال او ژبپوهان په پښتو کي د ممدوده الف له سته والي څخه نټه کيي؛ ځکه زموږ ځينو پښتنو خو پر ممدوده الف سربېره د پښتو نور اصيل او سپېڅلي ږغونه هم يو مخ له منځه وړي دي؛ مثلاً « پښتون » او « پښتونخوا » د « پختون » او پختونخواه » په بڼه وايي اوکاږي؛ له « کښېناستل » ، « کښېښوول/ کښېښودل »، « ښکنځل » او داسي نورو څخه يي د پښتو د اصيل او سپېڅلی ږغ ( ښ) په غورځولو سره « کېناستل » ، «کېښوول/ کېښودل » ، « کنځل » او داسي نور جوړ کړي دي؛ « ژ »، « ږ »، « څ » او« ځ » ږغونه يي هم له خپل لرغوني او اصلي مخرج څخه اړولي دي . « ژبه » يي « زبه/ جبه »، « ژوند » يي « زوند/ جوند »، « ژوبل » يي « زوبل/ جوبل »، « کږه » يي « کګه »، « کوږ » يي « کوګ » او « ږيره » يي « ګيره » کړې ده؛ « څه »، « څوک »، « کوڅه » او داسي نور د « سه »، « سوک » او « کوسه » په ډول وايي؛ او په ټولو پښتو ټکو کي د « ځ » ږغ په « ز » اليشيي لکه : « ځنګل/ زنګل »، « ځان/ زان »، « ځه/ زه » او داسي نور .

له هغه وخته، چي په دغه راز باريکيو پوهېدلئ يم، همېشه مي په ليکدود کي د خپلو خلګو د وينګ ( تلفظ) معيار ټينګ کړئ دئ . د دوديز ليکدود د پلويانو پر خلاف، د دخيلو کليمو په اصلي ليکدود پسي هيڅکله نه ګرځم؛ په هغه بڼه يي کاږم، چي په خوله ويل کيږي؛ مثلاً « آر »، « آس »، « آب »، «آن »، « آخوا »، « آپلو»، « آ خلګو » او داسي نور ګرده په ممدوه يا کشيده الف کاږم؛ ځکه د دغه راز ټکو په تلفظ کي الف په اوږده ږغ ويل

کېږي؛ خو « اشنا »، « اسمان »، « اثار »، « ايات » او داسي نور ټول بې مده ليکم؛ په دې چي زموږ خلګ يې د « آشنا »، « آسمان »، « آثار »، « آيات » په بڼه نه وايي . بايد تر وسه وسه کوښښ وکو، چي د کليمو په ويلو او ليکلو کي د دو رنګی او جلاوالي مخه ونيسو .

**د معروف، مجهول او معدوله واو کيسه څنګه ده؟**

په پښتو کي اصلاً دوه واوه باب دي : معروف ( څرګند، لنډ) او مجهول ( اوږد) واو. زموږ پېښوري ليکوالو او څېړونکو د پاړسي ژبي په پيروی، يو بل واو هم په را ګډ کړئ دئ، چي معدوله واو يې بولي .
معروف ( څرګند يا لنډ) واو، څرنګه چي له نامه څخه يې هم ښکاري، هغه واو دئ، چي په څرګند او واضح ډول ويل کېږي؛ او په ويلو کي خوله ډېره نه خلاصيږي لکه : سور ( قرمز، سرخ)، وير ( غم، ماتم)، ور( دروازه) او داسي نور. مجهول يا اوږد واو، هغه واو دئ، چي په اوږده ږغ ويل کېږي؛ او په ويلو کې ږغ د معروف واو په څېر واضح او روښانه نه دئ لکه : کور( استوګنځی، خانه)، پسور( بر، عرض، پهنايي)، تور( تور رنګ، تومت، الزام، تقصير) او داسي نور. معدوله واو، هغه واو دئ، چي په خوله نه ويل کېږي؛ خوپه ليکلو کي کاړي لکه : خويش، خويشتن، خواستن، خواهش، خواهر او داسي نور. دا « واو » يوازي په پاړسي ادب کي دود دئ، چي حتا هوري هم د ژبي له ږغيزو اساساتو سره اړخ نه لګيي . د کښته پښتنو ليکوال او څېړونکي د اوردو ژبي له لاري د پاړسي د همدې دود او دستور د نفوذ له سَوَبه د پښتو ځيني دخيلي کليمي لکه : تنخا، خېشکی، خېښ او داسي نور په معدوله واو ليکي : تنخواه، خويشکی، خوېښ . . .
له هغو کسانو څخه چي « تنخا»، « خېشکی »، « خېښ » او داسي نوري مغغني کليمي د پښتني تلفظ پر خلاف، د پاړسي او اوردو په بڼه ليکي، بايد پوښتنه وسي، چي « اډه »، « بوج »، « جګړه »، « دوکه »، « دوک »، « دنده »، « ګړی »، « ډُول »، « اوتاک »، « اوجاغ »، « توپان » او داسي نوري کليمي نو ولي په اصلي سنسکريت، هندي، توركي او پاړسي بڼه نه کاړي؟! ځکه مخکي مو يادونه وکړه، چي دا کليمي په هندي او اوردو ليکدود کي د « اډا»، « بوجھ » ، « جھګړا»، « دهوکا»، « دکھ »،« دهندها »، «ګهری »،« ډهول »، « اطاق »، « اجاق »، « طوفان » او داسي نورو په بڼه کښل کېږي . « ميا » سنسکريت کليمه ده، چي له پېړييو پېړييو راهيسي په پښتو ژبه او ادب کي هم د تعظيم، تکريم، درناوي او ميني په مانا پراخ استعمال لري؛ مګر سره له دې هم موږ دا ټکی په هغه بڼه نسو ليکلای، چي هنديان يې وايي . علت يې دا دئ، چي موږ د پښتو ژبي په ږغيز سيستم کي د بې نقطي والا نون ږغ او نخښه نه لرو . دا بې نقطي نون د هندي الاصله ژبو مخصوص ږغ دئ . د دې اړتيا له اسيته يې پښتانه له اوله تر اوسه د « ميا » په بڼه وايي؛ ځکه نو بايد په همدې ډول وهم کښل سي .
د پښتو ليکدود د اسانی دپاره بايد د تلفظ د معيار له مخي د دوو واوو ( مجهول او معروف) ترمنځ توپير وکو. لوی استاد - ارواښاد علامه حبيبي ( ١٢٨٩ش/ ١٩١٠ع - ١٣٦٣ ش/ ١٩٨٤ع) له ننه درو اويا کاله دمخه په خپل ارزښتناک اثر « سپېڅلي پښتو » کي د اوږده او لنډ واو په ليکلو کي ودې توپير ته کلک پام کړئ دئ؛ او د هر يوه پر سر يې جلا جلا نخښه ايښي ده . فاضل استاد - ارونباد علامه عبدالشکور رشاد ( ١٣٠٠ ش / ١٩٢١ع - ١٣٨٣ ش / ٢٠٠٤ ع) هم د « پټي خزانې » په فرهنګ کي همدا لار پاللې ده؛ مګر زموږ ننني ژبپوهان تر اوسه د دې دوو واوو د بېلولو و کار ته لاس تر زني ناست دي . نبخه چي پام يې نه دئ ور اوښتئ، کې د پېښوريانو په اصطلاح د بېلولو چل نه ورځي؟!

زما په نظر، ژبپوهان باید د هیواد و کوچنیانو او راتلونکو پښتو( نسلو) ته د روښانه تعریف، پراخو مثالو و جلا جلا نخښو په کارولو سره د معروف او مجهول واو توپیرونه وښیي . کله چي د هر واو دپاره بېله نخښه ولرو، بیا نو هیڅکله د سور( سرخ، قرمز) او سور( پسور، بر، عرض)، شور( اسم صوت) او شور( ږوږ، شورماشور، غالمغال، فتنه، پسات)، توره ( شمشېر، سپلاوه) او توره ( سیاه، سیاه رنگ) غوندي ټکو تر منځ په ویلو کي التباس او مغالطه نه پېښیږي . ایا موږ نه سو کولای د هر واو دپاره جلا جلا نخښه وټاکو؟ که د جلا جلا نخښو تشخیص او تثبیت گرانه خبره ښکاري، ایا دا هم نسو کولای، چي له اوسنیو تورو څخه په کار اخیستو، د یوې فرضیې یا مثال په توگه، د مجهول یا اوږده واو ټولي کلیمې په یوه واو وکاږو لکه : کور، مور، پېغور، پسور، تور، اور، گور او داسي نور؛ او گرده هغه ټکي په همزه لرونکي واو وکاږو،چي په وینگ کي معروف واو راغلئ يي لکه : ؤران، ؤلاړ، ؤر، ؤيل، سؤر او داسي نور . د ژبي لیکدود خو د یوې یا دوو ورځوخبره نه ده . زموږ ژبپوهان باید د هر اړخیز او بشپړ املایي سیستم په جوړولو سره د پښتو ټکو د سم او اسانه ویلو په برخه کي د خپلو راتلونکو نسلو د مشکلاتو غم هم وخوري .

که څوک تصور کیي، چي د دغه راز بېلونکو نخښو ټاکل، بې ځایه تجویز دئ، بیا نو دا خبره هم باید سپینه کي، چي موږ ولي په پښتو کي و پینځه ډوله « ی » گانو ته اړتیا لرو؟ ایرانیانو په پاړسي کي د درو « ی » گانو پر ځای یوه « ی » غوره کړې ده؛ کوی ( کوڅه)، شیر( شیدي/ شودې) او شېر ( زمری) گرده په یوه « ی » کاږي؛ حال داچي ددرو سرو « ی » گانو په ږغ کي لوی فرق لیدل کیږي . که دا لار « سمه »او« علمي » يي، بیا به موږ هم د پینځو بېلو « ی » گانو پر ځای یوه « ی » وضعه کو؛ او د پینځو بېلو ږغو کار به ځني اخلو. په لیکلو او ټایپولو کي به مو هم جنجال او سرخوږی نه يي . ایا د معروف او مجهول واو نه بېلول، موږ و داسي نامعقولي نتیجي ته نه را رسیي؟!

زماپه نېز (نزد) خو د بېلابېلو ږغو د ټرانسکریپشن دپاره د یوه توري یا یوې نخښي ټاکل د ژبي د ږغیزو ځانگړتیاوو د نست کولو او ورانولو په مانا دئ . هر څونه چي د بېلابېلو ږغو د بېلولو او تشخیص په مقصد جلا جلا توري او نخښي ولرو، په هغونه اندازه د یوې ژبي بېلابېل ږغونه، په سمه او دقیقه توگه پېژندل کیږي . دغه راز، هر څونه چي د ژبو بېلابېلي هجاوي او اوازونه په علمي او دقیق ډول و پېژندل سي، په هغونه اندازه د اولسو ژبي، ادبیات او فرهنگي میراثونه هم له تصرفاتو او لاسوهنو څخه ژغورل کیږي . د اولسو د ژبو، ادبیاتو او نورو کولتوري ارزښتو سمه ساتنه د ژبپوهانو، لیکوالو، شاعرانو، ژورنالیستانو او نورو فرهنگپالو تر ټولو لوی رسالت او مسؤولیت دئ .